نبوي ارشاد

د محمد "ص" د بعثت نه تر مغه وخته چي د محمدي امت وروستني افراد له دجال سره جگړه کوي جهاد دوام لري ظالم او عادل بادشاه يي له منځه نشي وړلي او د خداي په مقدارانو عقيده لرل عمر د ايمان اصل دي.

(ابوداؤد)

شريعت

د جوزجان اومزار شريف د فتحي په مناسبت ځانگړي گڼه

اوونيزه

دافغانستان دطالبانو داسلامي تحريک مرکزي نشراتي ارگان

الهي فرمان

بيشکه چي موږ فتحه اوبري درکړي دي تاته فتحه او بري ظاهر او سکاره لپاره د دي چي وبخښي تاته الله "ج" هغه چي پخوا تير شوي دي له گناه ستا ځخه او هغه چي وروسته دي (له گناه ځخه) او (بل ددي لپاره) چي پوره کړي (الله "ج" په فتحي د مکې او نورو ښارونو سره) مهرباني خپله پر تا باندي او (بل ددي لپاره چي وښيي الله "ج" تاته سمه ښافه لاره.

(الفتح ۱-۲)

احمد شاه ((وحدت)) Ahmad Shah (Vahdat) A. K. P. O.

دوهم کال شلمه گڼه پرله پسي (۷۰) | يکشنبه د ۱۳۷۶ هـ ش کال د غبرگولي دمياشتي (٤) | د ۱۹۹۷ ميلادي کال مي (۲۵) | د ۱٤۱۷ هـ ق کال د محرم الحرام (۱۷)

تذکر .حطر ايمان است اگر به اين کلمات مقدس بي حرمتي کنيد .

قدوم مبارك سپاهيان مجاهد تحريك اسلامي طالبان به شهر شير خدا (مزار شريف) مبارك باد

جوزجان او مزار شريف فتح شول

دوستم نا معلومي خواته تښتيدلي دي

د باختر د اطلاعاتي اژانس د خبر له مخي د اسلامي اردو د بريالبو عملياتو په نتيجه کي چي د هرات د والي او د شمالي صفحاتو د مسوول محترم الحاج ملا عبدالرزاق اخند او د اسلامي دولت د اتل قوماندان محترم گل محمد په مشري تر سره شول د جوزجان دمرکز (شبرغان) په گډون د جوزجان ټول ولايت او د مزار شريف تاريخي ښار د اسلامي دولت نه له باغي وسله والو پاك شويدي. او د اسلامي اردو پر مختگ د دښمن د مور چلو په طرف دوام لري . په خبر کي ويل شويدي چي ددي ولاياتو درنو اوسيدونکو د اسلامي اردو مجاهدينو او درنو طالبانو ته تود هرکلي ويلي دي او له اسلامي دولت سره يي خپل ملاتړ څرگند کړيدي .

عاليقدر امير المؤمنين د امارت په مقر کي د ختيځ زون تنظيمه رئيس محترم مولوي عبدالكبير د لغمان والي محترم نورالله نوري او د کونړ والي محترم ملا عبدالهادي اخند د کتني لپاره خپل حضور ته ومنل

د باختر د اطلاعاتي آژانس د خبريال د خبر له مخي عاليقدر امير المؤمنين د هيواد په ختيځ زون کي د اسلامي نظام د ستنو د ټينگښت او پراختيا، د سوله ايزو شرايطو د تأمين، او اقتصادي بيا جوړوني په خاطر ددي ولايتونو د مسؤولينو د کار او فعاليت راپور واوريد او په دي ولايتونو کي د دايمي امنيت د تأمين او د چارو د ښه والي په لاره کي دوي ته لازمي لارښووني وکړي .

مزارشريف حضرت شاه اولياء حضرت علي ابن ابي طالب "رض"

محترم مولوي وکيل احمد متوکل، بي بي سي سره په مرکه کي:

موږ کوښښ کوو چي لمړي د مفاهمې او که له دي لاري ممکن نه وي د زور له لاري د وطن دلوړو گټو په خاطر د افغانستان مسئله د حل تکي ورسوو

په کار ده چي ټول مخالف غوليدلي کسان نور جگړي ته دوام ورنه کړي او د خپل ملت او د افغانستان د جهاد په نظر کي نيولو سره تاريخي پريکړه وکړي

د افغانستان د اسلامي تحريك د امارت مقام د خاص فرمان په اساس ددي لپاره چي د هيواد په شمالي صفحاتو کي غير مسؤلانه جنجالونه رامنځته نه شي د افغانستان د شمالي صفحاتو د چارو د مسؤول او نگران په توگه الحاج ملا عبدالرزاق اخند ټاکل شويدي همدا راز د افغانستان د اسلامي دولت د بهرنيو چارو د وزارت د مرستيال په توگه محترم عبدالمالك چي پخوا يي هم په بهرنيو چارو کي تجربه درلوده ټاکل شويده .

محترم متوکل ددي پوښتني په ځواب کي چي د مزار شريف له نيولو وروسته د افغانستان په نورو شمالي ولاياتو کي وضعه څه ډول ده ؟ وويل :

ښکاره خبره ده چي د افغانستان د اسلامي دولت تکراراً د عمومي عفوي اعلان کړيدي او ددي لپاره چي زياتي ويني تويي نه شي او بي ځايه جنجالونه پيدا نه شي په کار ده چي ټول مخالف غوليدلي کسان نور جگړي ته اوردوام ورنه کړي او د خپل ملت او د افغانستان د جهاد په نظر کي نيولو سره تاريخي پريکړه وکړي. په هر صورت موږ چي ترکومه ځايه معلومات لرو د افغانستان په پاتي ولايتونوکي له اسلامي دولت سره د پيوستون گرمه لړي روانه ده ان شاء الله عنقريب به نور په افغانستان کي د افغان مظلوم ولس ارمان ترسره شي موږ بيا هم کوښښ کوو چي ژر تر ژر د مفاهمې له لاري، او که له دي لاري ونه شو نو د زور له لاري د افغانستان د لوړو گټو په خاطر به ان شاء الله د افغانستان مسايل، د حل تکي ورسوو

د اطلاعاتو او کلتور سرپرست وزير محترم ملا امير خان "متقي" له شريعت اوونيزي سره په مرکه کي:

له ملت سره مو په ټول هيواد کي د اسلامي نظام د نفاذ او امنيت د ټينگښت وعده کړيده او ددي هدف د بشپړ تحقق لپساره به تر پايه د اسلام د دښمنانو په ضد جنگيږو

د افغانستان اسلامي دولت له ټولو گاونډيو هيوادو سره د گاونډيتوب د اصولو او د نبوي اخلاقو په رڼا کي نيك چلند غواړي او له دوي نه هم غواړي چي بايد له افغانستان سره د گاونډيتوب اصول مراعات کړي

محترمو لوستونکو اموږ د جوزجان او د مزار شريف د ښار د فتحي اوپه شمال کي د وروستيو بدلونونو په اړه د افغانستان د اسلامي دولت د اطلاعاتو او کلتور د وزارت له سرپرست وزير قدرمن ملا امير خان متقي سره لنډه مرکه کړيده چي په گډه يي لولو .

کله مو چي له محترم متقي نه وغوښتل چي د تيري د ورځي د فتوحاتو په اړه معلومات راکړي نو داسي يي وويل : د تيري ورځي د عملياتو په نتيجه کي چي سهار وختي د هرات د والي محترم مولوي عبدالرزاق اخند چي اوس د شمالي صفحاتو مسؤول هم وټاکل شو په مشري پيل شوي و د شبرغان په شمول د جوزجان ټولي ولسوالي او ساروته فتحه او هلته اسلامي شريعت نافذ دي د شبرغان له فتحي وروسته د اسلامي اردو مجاهدين د مزار شريف خواته په حرکت شول او وروستي خبرونه دا دي چي مزار شريف هم د خدای دوهم مخ

لوړ رتبه الوتکي چي د دوستمي مليشو په واك کي وي د اسلامي اردو له هوايي پوځ سره يوځاي شوي

د شريعت اوونيزي خبريال خبر راکړ د دوستم د هوايي او هوايي مدافعي پوځ د قوماندان ډگر جنرال حفيظ الله او تورن جنرال عبدالجميل په پيلوټي د دوستمي مليشو دوه (L.29) او سو ۲۲ جټ الوتکي پرون له غرمي مخکي د نهه بجو او ٤٥ دقيقو او لس بجو او ديرش دقيقو په شاوخواکي د فارياب د مرکز ميمني په هوايي ډگر کي سکته شوي او د اسلامي اردو د مخالفينو په مقابل کي له اسلامي دولت سره يو ځاي شوي .

همدا ډول پرون د نهه بجو او ٤٥ دقيقو په شاوخواکي د بريد جنرال يوسف شاه په پيلوټي يوه L.29 جټ الوتکه د دوستمي مليشو نه بيله او له اسلامي دولت سره يو ځاي شوه دا الوتکه د کابل د خواجه رواش هوايي ډگرته ولېږدول شوه. خبر زياتوي يوه هليکوپتر چي په ډول ډول مخابراتي وسايلو او سټلايت دستگاه باندي سمبال ده د غلام سخي نور احمد، قمبر او محمد اسلم په پيلوټي پرون يوه نيمه بجه د خواجه رواش په هوايي ډگر کي راکوزه شوه او د افغانستان د اسلامي دولت هوايي فوځ ته تسليم شوه بايد وويل شي چي له اسلامي دولت سره ددي پيلوټانو او الوتکو پيوستون د دوستم هوايي فعاليت بالکل فلج او له منځه وړي دي .

اسباب و اثاثيه سفارت خانه هاي افغاني مقيم خارج، دست خوش حيف و ميل قرار گرفته است

اطلاعات اخير واصله به اداره هفته نامه «شريعت» حاكي از اين است كه نمايندگان سفارت خانه هاي اداره مخلوع رباني مقيم كشور هاي خارجي دست به فروش اسباب و اثاثيه سفارت خانه هاي افغاني پرداخته و از اين مدرك پول هنگفت بدست مي آورند .

يك منبع موثق به خبرنگار ما اظهار داشت كه داود مير سفير اداره مخلوع رباني مقيم پاريس بعد از فروش اسباب و اثاثيه سفارت افغاني مقيم فرانسه، تعمير سفارت را نيز به معرض فروش قرار داده است.

وزارت خارجه فرانسه بعد از اينكه از موضوع اطلاع حاصل ميدارد ، از عمل خاينانه ، به اصطلاح سفارتكار افغاني مقيم فرانسه جلوگيري مينمايد .

له دوستمي مليشو سره اسير ۲۵۰ تنه طالبان خوشي کړلي شول

الحمد دري نيم سوه هغه طالبان چي د اسلامي نظام د ټينگښت په هيواد کي د سرتاسري امن راوستلو او د شهيدانو او يتيمانو د ارمانونو د تر سره کولو په خاطر د کمونستانو او گوډاگي باغيانو په ضد مقدس جهاد کي د دښمنانو لخوا نيول شوي وو او د شبرغان په زندان کي اسير وو د شبرغان له فتحي سره ازاد او د اسلامي اردو له مجاهدينو سره اوږه په اوږه د تښتيدلو مليشو په تعقيب پسي ووتل .

سرمقاله

دلوي خداي (ج) په نامه

الله اكبر
جهاد پيروز شد

صليبيت و صهيونيزم يهودي در نتيجه كيد و مكر هاي چند صد ساله خود ها خاطره جهاد را در اذهان و وجدان امت مسلمه كشته بودند و مسلمين در باره جهاد هيچ نمي انديشيدند و به اين ارتباط اصلاً احساس مسؤوليت به خود راه نميدادند ، يكي بعد از ديگري در آغوش كفار عيسوي و يهودي سقوط ميكردند و همه ارزشهاي ديني و پر افتخار تاريخي خود را رايگان به پيشگاه استعماريون صدقه و قربان ميداشتند درين حالت زار و درد آور تقدير خداوند «ج» بدين رفته بود در اين عصر كه مسلمين در انحطاط و ذلت همه جانبه حيات بسر ميبردند ملت مسلمان و سلحشور افغان را توفيق عنايت فرمايد تا فريضه جهاد را كه قله، شامخ اسلام است بار ديگر در ذهنيت ها زنده گرداند ، ملت مجاهد افغان مقابل غلامان خلقي و پرچمي روسها و تجاوز مستقيم نظامي شوروي سينه سپر كردند و با دست خالي اما پر و سرشار از نيروي ايمان و عزم داخل معركه و

(ص۲)

"کارکنان هفته نامه "شريعت" فتح ظفرمندانه بلخ باستان و جوزجان را به دست طلباء کرام و مجاهدين دلير اردوي اسلامي به رهبر عاليقدر امير المؤمنين، شوري سرپرست، ملت مسلمان افغانستان و کافه اي امت اسلامي از ضمير قلب تبريك و تهنيت عرض ميدارند .

د مزار شريف او شبرغان د فتحي په مکله د بي بي سي رپوټ:

د مزار شريف نيونه د طالبانو لخوا يوه حيرانوونکي پوځي عملياتي پيښه وه

بي بي سي

زموږ پوځونو طالبانو ورونو سره اوږه په اوږه يو ځاي د جوزجان ولايت فتح کړ

جنرال مالك

په داسي حال کي چي د مزار شريف نيونه د طالبانو لخوا يوه حيرانوونکي پوځي عملياتي پيښه وه، په شوبلو او ټانگونو کي سپاره جنگيالي چي بيرغونه يي رپول له ډير لږ مقاومت سره مخامخ شول او په خپله لار کي يي د دوستم پوځيان بي بي وسلي کول. که څه هم د وسلو پرله پسي غږونه اوريدل کيدل خو د مرگ او ژوبلي په اړه کوم معلومات رارسيدلي نه دي په خپله د دوستم د ځاي په باب هم معلومات نشته خو په جنگيالو کي زياته برخه د جنرال دوستم بهرنيو چارو د پخواني وزير ساغلي عبدالمالك پلويان دي چي څو ورځي د مخه د طالبانو سره يو ځاي شو د طالبانو اسلامي تحريك اوس افغانستان له دري پر دوه برخه خپل تسلط کي لري

د هيواد د وسله والو ځواکونو او د اسلامي اردو د اعلى سرقوماندان، عاليقدر امير المؤمنين تر قوماندي لاندي د افغانستان د اسلامي دولت قهرمانه اردو دي تل سرلوړي وي

شریعت

دامتیاز خاوند : دافغانستان دطالبانو اسلامي تحریک
دتأسیس کال : ١٣٧٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترنظر لاندې
مسؤول مدیر : الحاج مولوی عبد الرحمن احمد «هوتک»
مرستیال : ملا أسد الله «حنیفي»
دیوې ګڼې بیه : په هیواد کې (١٢٠٠) افغانۍ
په پاکستان کې (٢) کلداری
آدرس : کابل وزیراکبر خان مینه /سرک١١/ کور (٥٢٠)
تیلفون : ٢١٢٨١- توزیع و شکایات ٦٢٨٥٩
پوست بکس : (٤٧١)
په پېښور کې : دطالبانو نمایندګی/ تیلفون: ٨٤٤٣٣١-٨١٨١٥٧-٨١٥٦٣٧

بقیه سرمقاله

کارزار شدند که لله الحمد این مرحله هاي دشوار آزمون و امتحان را به نصرت خداوندي «ج» موافقانه به پایان رسانیدند و افتخار بسي بزرگ تاریخي را براي خود و کافه، امت اسلامي بدست آوردند :

فریضه، جهاد که قله، شامخ اسلام است و به اثر کوشش هاي ماسونیزم یهودي و جهان صلیبي موجودیت عملي خود را در میان امت اسلامي از دست داده بود باردیگر عظمت و بزرگي آن در میان جامعه اسلامي، افکار و اذهان مسلمان ها اعاده شد و به اوشان تفهیم گردید که تنها و تنها راه عزت ، قوت ، ارتقا و عظمت در جهاد است در جهاد، جهاد مقدس ملت افغان به نصرت الهي روحیه اعتماد و تکیه به خود را به امت اسلامي بازگردانید و در اعماق ضمیر و وجدان مسلمین نهال امید و آرزو را غرس نمود و به ملت مجاهد افغان و کشور افغانیان امید هاي همه مسلمین و مستضعفین جهان بسته گردید و مستضعفین راه نجات خود را در راهي یافتند که افغانیان انتخاب کرده بودند (جهاد)

کفار صلیبي و استعمار غربي و روسي که ماهر تر و کهنه کار تر از سرپراهان و قیادت هاي جهادي در عرصه هاي سیاسي و رهبري بودند از همان اول وحدت در فکر و چاره بودند نگذارند بابي را که ده ها بلکه صد ها سال به قدرت خدعه ، فریب و نیرنگ ماهرانه به روي مسلمین بسته بودند؛ قیام مبارزه ملت افغان آن باب بسته عزت، سعادت و ارتقا (جهاد) را دو باره کشوده و در میان مسلمین راه یابد ، لذا زیرکانه صف واحد و متحد جهاد و قیام را به عناوین مختلفه سیاسي ، قومي ، نژادي ، سمتي و مذهبي تقسیم و تمزیق نمودند و جهاد گران را چنین مقابل هم قرار دادند که گویي اصلاً با هم شناخت ، تعارف و وجوه اشتراك و همنواعي نداشته و ندارند . ثمرات منفي و استراتژیك این توطیه ضد جهاد و جهادگري زماني خوب آشکار و آفتابي گردید که روسها به هزیمت و شکست قاطع مواجه شدند و رژیم دست نشانده آنها هم چانس بقا را از دست داده بود ، همه شرایط زماني و مکاني به نفع جهاد و مجاهدین مي چرخید و چانس تشکیل اداره و نظام سیاسي و دولتي کشور به مجاهدین روي خوش و توافق را نشان داد ، اما متاسفانه در اثر این توطیه ها، سنگ اولین نظام سیاسي و دولتي کشور طوري نهاده شد که اصلاً با جهاد و واقعیت هاي عیني وبافت اجتماعي و تاریخي ملت مسلمان افغان برابر و موافق نبود در نتیجه حکومتي به میان آورده شد که مبتني بر عصبیت قومي و لساني بود اما به شکل و رنگ جهادي که این اداره قادر نشد به سطح ملي و بین المللي ثمره، از ثمرات جهاد و نظام اسلامي را به مردم خویش و امت اسلامي به ارمغان آورد .

عناصر مرکبه اداره ائتلافي کابل که زاده طرح ایران و نتیجه توطیه بدخواهان منطقه و دشمنان بین المللي جهاد و اسلام بود در همان وهله اول طوري با هم آویختند و آتش نفاق و حسادت ها در میان شان شعله ور گردید که هیچ چیزي از دست آورد هاي جهاد و انقلاب نماند که طعمه، این آتش آزمند و پر کینه نگردد مال ، سر، ناموس،عزت، آبرو ،عفت و همه سرمایه هاي شخصي و ملي مورد تجاوز هاي بیدریغ قرار گرفت . فضاي پر غبار و دود آلود همه را در خود پیچید ، مأیوسي، غربت و ورشکستگي ملك افغانیان جهادگر ، همه امید نشینان جهاد افغان را در سراسر جهان به سوگ و عذا نشانید «انا لله و انا...» همه کس و همه جا را مایوسي فرا گرفت و تماماً در عالم مایوسي ، درد و حسرت به امید منجي بودند که آنها ،،جهاد و انقلاب را از شر این بد اندیشان جفا پیشه و باداران خارجي شان نجات بدهد ، همان بود که نصرت الهي شامل حال شد صداي نجات بخش تحریك اسلامي طالبان با داشتن ضوابط و روابط شرعي از خطه، مرد آفرین و تاریخ ساز کشور (قندهار) قد بر افراشت و در همه گوشه و کنار وطن و کرانه هاي دور در شرق و غرب ، شمال و جنوب جهان طنین انداز گردید و همچون نسیم صبحگاهان به روح پژمرده و افسرده هموطنان مجاهد و قهرمان روح تازه بخشید و تجدید روحیه جهاد و جهاد گري را به مفهوم اصلي و واقعي آن در افکار و اذهان ملت مسلمان افغان احیا نمود .

جهاد بزرگ آغاز گردید اما این بار جهاد غرض تصفیه و تمیز جهاد از غیر جهاد و تصفیه مجاهد از غیر مجاهد (دزد ، رهزن، قطاع الطریق، فاحش و متجاوز) و تصفیه متعهدین به جهاد و منافع علیاي کشور از عناصر غیر متعهد خارجي و فروخته شده به بیگانگان . در مجموع گفته میتوانیم که تحریك اسلامي طالبان تحریك دفاع از جهاد و انقلاب اسلامي ، تمامیت ارضي حاکمیت ملي و استقلال در کشورو تحریك بر آورده کردن آرمان شهداي مان (تنفیذ شریعت) در کشور بوده و بس . که الحمد لله اکنون به فتح شمال کشور به بزرگترین تجاوز مستقیم و غیر مستقیم روسها در کشور ما خاتمه بخشیده همه جانبه و پوره استقلال ، حاکمیت ملي، و تمامیت ارضي را براي ملت خود کمایي کرد الحمد لله حالا با آواز بلند اعلان میداریم :

که جهاد پیروز شد . الله اکبر . الله اکبر. الله اکبر و لله الحمد .

د جوزا له څلورمې د جوزا تر څلورمې

ل . آزمون

کلونه کلونه کېدل چې د ګران وطن هري تیري او هرې لویشتي لویشتي د سوکالي په تمه شپې سبا کولي. د ګران وطن د آزادي په خاطر زمونږ ډېرو سرښندونکو خپل سرونه د قرباني لاري ته چمتو کړل. هغوي خپل ځاني ګټې له ملي ګټو څخه ځارکړي. په وطن کي بې د بې دیني پرچند غږ پورته کړ . او همالته وو چې د بې دینو له لاسه یې د ژوند خواږه په ترخوبدل شول هغه مهال چې دیني علماوو د پل خښتي جامع جومات کي خپل د حق غږ په ستونی کي وچ نه کړ او مور نه یې د ویاړ تاریخ پریښود. نو د هغوي د جذو جهد په رڼا کي مور خپله ایماني او وجداني مبارزه پر مخ یووړه . دا که هغه مهال زمونږ یو شمیر په دین مینو علما وو د اسلام د سپیڅلي نظام د ټینګښت په ارمان خپلي اوښکي او وینې توي کړي، نو دا دي اوس د هغو سپیڅلو شهیدانو اوښکو او وینو پر ځکه داسي فصلونه راوټوکېدل چې انشاء الله د هغوي سپیڅلي ارمان یې د بري تر پوله ورساوه .

که د هغه وخت چارواکو خپل غوږونه دومره هم دیني علماوو ته اېښي واي، نو ګران وطن به د پردیو د ښکار وسیله نه ګرځید کله چې دجوزا څلورمه ورځ راغښرګېري نو زمونږ په ذهن د همغو علماوو پاڅون انځوریږي چې کلونه کلونه یې د بې دیني سوري ګانده او په خپل اند او زیار یې کونس کاوه چې د اسلام د جنډې تر سیوري لاندي د الهي د سپیڅلي دین د حق مبارزه پر مخ یوسي. دا چې د وخت چارواکو څه ورسره وکړه، او په کومه سترګه یې ورته وکتل، نن یې د ګران وطن په ګوټ ګوټ کي سه انځور ولي شو .

د همغي جوزا د څلورمي برکت اود جرس غږ و چې زمونږ مسلمان ملت ویده پاتي نه شو، او د هغو په لارښونه او دعا باندي یې د نړي سوپر طاقت سره داسي ډ غږي ،وهلي چې د کفر نظام یې ان د کفر په زړه کي له منځه یوور او د هغوي د طاغوتي فکرونو په ذهن کي یې د الهي د دین په وړانګو اوریل کړ . زمونږ مجاهد اولس داسي قرباني ورکړي چي نن د جهاد حماسو اسطوري بلل کیږي . یوه روسي خپل بچي د افغانانو په شهامت او میړانې للو کوي زمونږ د مجاهد اولس په ارادو کي دا تغښي وو چې :

قیټ مي مه بوله غورځنګ را باندي مه کړه
زه په دې افتادګي کي لوي ګړنګ یم

هوا د جوزا د هغي څلورمي ورځي ناري سوري وې چې بالاخره یې د کمون پهلوان داسي بر محکه حملاوه چې له پاڅیدو سره سم بیا چا په سترګو ونه لید نن د همالې جوزا دریمه ده چې زمونږ مجاهد اولس یې اپله د خپل ارمان منزل

د اطلاعاتو او کلتور سرپرست وزیر محترم ملا امیر خان "متقي" له شریعت اوونیزي سره ...

په نصرت فتح شویدي . د اسلامي اردو اتل مجاهدین ورننوتي او وضعه کاملاً آرامه د نن ورځي عملیات ډېر فاتحانه تر سره شول او الحمد لله د اسلامي اردو د مجاهدینو مسورال ډېر لوړ دي او د سیمې خلکو د اسلامي دولت په پلوي پاڅونونه کړي دي او د اسلامي دولت بیرغونه یې اوچت کړېدي چې دا پخپله ددې ښکارندوي دې چې د افغانستان ټول قومونه ، ملیتونه، د هري ژبي ویونکي او د هري سیمي اوسیدونکي له اسلامي دولت سره ملګري دي؛ مخکي تر دې چې د شیرغان هوایي ډګر فتحه شي دوه جټ 39L الوتکي او یوه سو 21 الوتکه تري را الوتي او د کابل په هوایي ډګر کي ناستي دي او یوه بله هلیکوپتر هم د دوستم د ملیشو نه د اسلامي دولت هوایي ځواك سره یو ځاي شوي چې دا هم له اسلامي حکومت سره د افغانانو دمیني او دوستي ملیشو سره د کرکي مظهر دي .

پوښتنه : ددې فتوحاتو په نتیجه کي د تر لاسه شویو مهماتو په اړه معلومات راکړي .

ځواب : څرنګه چې شبرغان ددوستم مرکز و نو ښکاره خبره ده چې غټې او ډېرې وسلي به ټولي هلته ځاي په ځاي شوي وي، په هوایي ډګر کي الوتکي او ټول امکانات موجود وو نو دا ټول د اسلامي اردو د مجاهدینو لاسته ورغلي دي او په دقیق ډول څو ځکه څه نه شم ویلي چې دا فتحي هم همدا نن او تازه شویدي او هغه سیمې هم ډېري لیري پرتي دي خو دومره ویلي شم چې دا سیمي له خپلو ټولو امکاناتو او مهماتو سره نیول شویدي .

محترم متقي د یو بلي پوښتني په ځواب کي چې ستاسو راتلونکي پروګرام څه دي داسي وویل : تاسي ته معلومه ده چې د طالبانو اسلامي تحریك له پیل نه ملت سره وعده کړېده چې دلته به اسلامي نظام نافذوي، د شهیدانو او کونډو ارمان به پوره کوي او تر څو چې زمونږ توان وي په خپله وعده ولاړیو او د خپل همدې هدف تر تحقق به زمونږ عملیات روان وي او د اسلامي نظام د قیام په وړاندي ټول خنډونه او د کمونیستانو او ملت د دښمنانو ځالي به له منځه وړو.

د اطلاعاتو او کلتورسرپرست وزیر ددې پوښتني په ځواب کي چې د وروستیو فتوحاتو اغیز به په ګاونډیو هیوادو څه وي داسي وویل : تاسي ته معلومه ده چې افغانستان د اسیا زړه ده، په ارامتیا کښي یې د سیمې ارامتیا او په ناارامي کي یې د سیمې ناارامي نغښتي ده لکه چې علامه اقبال وایي :

اسیا یك پیکر آب و گــل است
ملت افغان در آن پیکر دل است
از کـــشاد او کـــشاد اسیا
از فـــساد او فـــساد اسیا

نو زمونږ یقین دې چې په افغانستان کي امنیت او د شمال له فتحي او په هیواد کي د اسلامي نظام له ټینګښت سره به نه تنها په افغانستان کي بلکه په ګرده سیمه کي امنیت ټینګ شي ځکه که یو کور کي اور بل وي نو ګاونډیان تري حتماً متأثره وي نو چې په افغانستان کي اور ختم شي نو حتماً به په افغانستان او سیمه کي قراري راشي .

د افغانستان اسلامي دولت له ټولو ګاونډیو هیوادونو سره د ګاونډیتوب د اصولو او د نړیوال اخلاقو په رڼا کي د نیك چلند غوښتونکي دي او له دوي څخه هم همدا غوښتنه کوي چې دوي هم باید له افغانستان سره د ګاونډي توب اصول مراعات کړي اسلامي دولت نه تنها دا چې له ګاونډیو هیوادو سره بلکه له ټولي نړي سره د سو او نیکو اړیکو غوښتونکي دي او په دې کي به د نړي والو لپاره هم ګټه وي ځکه افغانستان خاص تجارتي اهمیت هم لري .

محترم متقي د یوې بلي پوښتني په ځواب کي وویل : د عالیقدر امیر المؤمنین له هغه فرمان سره سم چې غولیدلي انسانان هم باید نور ځان پوه کړي ، اوله ناولیو صفونو نه راووځي. د بیت المال مال دې بیرته بیت المال ته تسلیم کړي، له اسلامي دولت سره دې یو ځاي شي. اسلامي اصولو ته دې ځان تسلیم کړي او د شهیدانو د ارمانونو په پوره کولو کي دې زمونږ سره مرسته وکړي نو اسلامي دولت له هغوي سره هیڅ مشکل نه لري او د قدر په سترګه ورته ګوري او که اوس هم څوك د اسلام او مسلمانانو په ضد جنګیږي او وطن وړانوي نو ښکاره خبره ده چې څوك په جګړه کي ونیول شي نو د اسماعیل خان په څېر به اسلامي محکمې ته سپارل کیږي نو زمونږ غوښتنه له دوي څخه دا ده چې له دې وروستي فرصت نه هم ګټه واخلي.

محترم متقي د یوې بلي پوښتني په ځواب کي وویل چې: د افغانستان موجوده اسلامي حکومت د لکونو مسلمانانو او زرګونو طالبانو د وینو ثمره او د ټولو مسلمانانو غوښتنه ده نو له ملت نه زمونږ هیله دا ده چې ددې دولت پراخ ملاتړ وکړي؛ تاسي پوهیږئ چې څوك یو څه په پټو واخلي څومره په احتیاط او دړناوي یې ساتي نو زمونږ اسلامي انقلاب خو د بې شمیره شهیدانو او ټپیانو د پاکو وینو بدله ده نو باید ددې نظام ساتنه وکړي او په خپلو وینو یې خروب کړي او د هغه چا مخه ونیسي چې دا لوریینه یې پر مونږ پیرزونده او دا څوریدلي او کړیدلي ولس نور هم څو روي .

پایان تاریکي ها

ا.س.م.

سال ها هیولائي بس بزرگ، شبح سیاه با پنجه هاي سرخ خون آلود خویش در پناه تاریکي ها خلقي را میدرد، میسوزاند و بغارت میبرد .

زمان سپري میگردد و هیولا چاغ و چاغتر میشود و الدرین ماحول سیاه و تاریك مهار کردن هیولا نیز محال بنظر میرسد ..

ولي ناگهان، ناگهان دستي سپید مي بینم که بسوي هیولا دراز میشود ، هیولا وحشي تر میگردد ، سخت نعره میکشد، دست و پا مي کوبد و دندان نشان میدهد ..

و دست سپید به هیولا میرسد، شاید خواب مي بینم، اما نه! نه، این خواب نیست و در بیداري خویش مي بینم که هیولا همچون پارچه- پوسیده بي از بین میرود و اثري از خود جز لاشه، پاره، بجا نمي گذارد و در روشنایي دست سپید مي بینم که : مزار فتح گردیده است .

هیچ قوتي تحت هیچ نامي هیچگاه نمیتواند ملت ما را از هم جدا سازد

ملت مجاهد و مؤمن ما به خاطر ایجاد یك حکومت واحد مرکزي اسلامي در کشور، قلع و قمع تمام مزدوران اجانب، قطع همه انواع مداخلات خارجي و برچیدن بساط همه اقسام تعصبات ، مظالم و تجاوزگري از افغانستان عزیز قرباني هاي بي مثالي تقدیم کرده و مشکلات غیر قابل تحمل را بدوش کشید. در جریان دو دهه اخیر که مردم مسلمان ما مصائب و مظالم تجاوزات مستقیم نظامیگران کمونیزم جهانخوار را با شجاعت و ایمانداري کامل مقابله کردند امید میرفت که با شکست ارتش سرخ و اضمحلال کلي اتحاد شوروي دیگر افغانها مالکان همه هستي هاي مادي و معنوي کشور خویش گردیده و بخاطر آرام اعمار دوباره کشور ویران شده خوش را آغاز خواهند کرد اما بعد از شکست ارتش سرخ روس و سقوط مزدوران خلقي پرچمي شان در افغانستان مداخلات بقایاي کمونیزم تحت نظر فدراسیون روسیه و اتحادیه کشور هاي مشترك المنافع هنوز هم در امور کشور ما تداوم یافت از سوي دیگر حکمرانان ایراني در حالیکه نداي اسلام پرستي و مسلمان دوستي را بلند کرده بودند با روسها و نوکران حلقه به گوش اش در اسباي میانه هم صدا و هم پیمان شده تلاش هاي وسیعي جهت بي ثبات ساختن اوضاع در افغانستان براه انداختند که هندوستان و بعضي حلقات سیاسي دیگر نیز با آنها همصدا شدند در نتیجه همه این مداخلات صریح و تجاوزات ناجوانمردانه میهن عزیز ما به میدان کشمکشها ، کشتار و ویرانگري هاي بي هدف مبدل گردید در چنین مرحله حساس و خطیر تاریخي که ملت و مملکت ما در منجلات نابودي نزدیك به غرق شدن بود اولاد مؤمن و فدا کار این خطه اسلامي کمر همت باز از سر بسته و با ایجاد تحریك اسلامي طالبان افغانستان حکومت مرکزي را در پایتخت کشورتشکیل داده و قسمت اعظم کشور را تحت کنترول خویش در آوردند در این جریان باز هم این متجاوزین بیشرم دست از تجاوز و مداخله نکشیده گروهي را با ارسال هزاران صندوق مواد تسلیحاتي و منفجره در ایجاد سنگري در قلب کشور جهت مخالفت با دولت اسلامي ما یاري نمودند باندي را با تسلیح هر چه بیشتر بانواع مختلفه سلاح هاي مدرن در شمال کشور به عنوان مدافع حقوق اقلیت ها و جناحي را در شمال شرق کشور با حمایت مراکز نظامي و تربیوي در خارج از سرحدات ما به تخریب و شر افگني در کشور عزیز ما گماشتند اما همانطوریکه بعد از هر صعب سهلي و بعد از هر شام صبحي در پي است بلاخره فریاد مظلومان و سرشك یتیمان چشمه هاي رحمت الهي را خروشان کرده و نصرت اش را نصیب حال ما گردانید با اراده و قدرت بي مثال الهي آن قوت هاي که دشمنان اسلام و بقایاي کمونیزم چشم امید سوي شان دوخته بودند ناگهان میله هاي تفنگ شان را به سوي مخربین دین ، وطن و نوکران اجانب دور داده و لواي برحق و پر افتخار اسلام را بر فراز سنگر هاي شان بر افراشته و حمایت شان را از دولت اسلامي افغانستان اعلام داشتند با پیوستن ده ها هزار تن از مجاهدین ولایات صفحات شمال کشور و سیلي از قیام هاي حلق طلبانه هم میهنان مؤمن ما ولایات شمال کشور یکي پي دیگري از شر بقایاي کمونیزم آزاد گردید و بالاخره الحمد لله الحال شاهد آزادي ولایت باستاني بلخ و مرکز آن شهر مزار شریف میباشیم و عنقریب انشاء الله کدام مفسد و شرارت پیشه اگر در کدام مغاره، باقي مانده باشد نیز نابود خواهد گردید . فتوحات سریع الوقوع ولایات شمال کشور و حمایت عام و تام اهالي مسلمان آن ولایات از دولت اسلامي افغانستان نمایانگر این حقیقت است که دولت اسلامي افغانستان منحیث مدافع واقعي ارزش هاي اسلامي در کشور، حافظ استقلال ، حاکمیت ملي، تمامیت ارضي، اخوت دیني و قطع کننده پر توان مداخله گران خارجي و متجاوزین بین المللي در امور کشور ما بوده در پهلوي این حقایق بر افراشتن لواي توحید توسط مسلمانان ولایات شمال کشور و حمایت مردمي دولت اسلامي افغانستان در آن مناطق واضح کننده این امر است که همه، اقوام ، قبایل و ملیت هاي مسکون در کشور ما خود را جزیي از پیکر غیر قابل تنقیص اسلام و افغانستان شمرده هیچ کس تحت هیچ نامي هیچ زماني نمیتوانند آنها را از این بیت ابایي شان بیگانه سازد . هموطنان دلیر ما در شمال کشور ثابت ساختند که همیشه بخاطر حفظ هستي هاي عقیدوي و ملي - مادي و معنوي شان جانهاي عزیز خویش را فدا ساخته ودر مقابل هر تجاوز، زور گویي و سرکشي با همت و ایمان تسخیر ناپذیر مقابله و جهاد کرده و در این راه جزحصول رضاي خداوند «ج» هیچ امید و هدفي ندارند .

څلوریځې

د مشهد نمانځنه

زیري زیري د بري واخله اولسه
د جګړو په اور کي سویه اې بې کسه
دامو په غاړه ربي بي ارمان نن
د مشهد نمانځنه وه زمونږ مقدسه

اسلامي جنده

د اسلام د جنډې شور مي لړځوي طاغوتي فکر
بیا له تخته راپرېباسي خونړي یزیدي فکر
دامو سینده راپاڅه د جپو شور دي کړه ویښ
ګردابونو کي دي ناوکړه د کمون لېښتي فکر

نوراني لښکر

سکیل کړو نوراني لښکر پنجوکي د کمون نظر
ورك يې په مغزوکي د افغان کړ، د بیلتون نظر
ټول قومونه یو دي افغاني عزم یې کړي دي
پالي به وطن کي د خوښي او د سمون نظر

د روس پهلوان

چي د حق د سر تیري لاس شورر اورږد
د کافر د بې دیني تري کاروان تښتي
چي د وړانګو د لښکر پل یې تر غورر شو
نن د روس د ویاړ هغه پهلوان تښتي

د ارمان شمله

لاس یو کړو پښتون ازبك تاجك سره
نور به نو تبعیض لساني نه وي هیڅ
ستا د ارمانو شمله به هسکه وي
کښت به د ارمان تاواني نه وي هیڅ

نور نه د امیر المومنین ناره

بیا په غورځنګونو مي په خیال کي شور د سین راځي
ځکه دي د غرونو هر تصویر په کي رنګین راځي
نن چي د وحدت لاسونه ورکړل او لوړونو
غوور نه بي ناره شو د امیر المؤمنین راځي

* * *

ستا جنډه رپیږي
د پامیر په دنګو غرونو کي
شنه مودږ وطنه افغاني مینه رګونوکي
ستا جنډه رپیږي
* * *

ستا د جنډې شورنه
راټول شوي ولسونه دي
دوي د استا په مینه
په تنګ ایښي خپل سرونه دي
ستا شان وشوکت ته
ویلي کړي یې کاڼي زړونه دي
ښکاري د تنګ ځلي یې داستا په
تأریخونو کي
* * *

اي دریدي ګله
ستا په رنګ او په ورموکي نن
ښکاري یو انځور
د کوم شهید دي په رګو کي نن
ښکيل چي شمال نه کړي
د سورکي لاس په پنجو کي نن
نن چي نه يې ښکلي د ببدیا په کابو
نږونوکي
* * *

ستا د ځانګو سوري نه
دمه کوم د ژوند غیږ کي
ستا د ګلالي څیري
انځور کاږم د خوند غیږکي
ما دبابستونو
غزل لوستي د کمند غیرکي
زه زخمي هوسي یم ستا عشق لیکم

زیري پرتا زیري
ستا د تنګ ګلاب شهید شولو
هغه د میوند په مینه
مست درباب شهید شولو
راشه اي درځو چي
دنغمو رباب شهید شولو
ستا د آدم شور دي د سندرو په ګلونو کي
* * *

ستا خوښالي روح به
کړي خوښاله ابدالي خاطر
رنګ به له میوند ورکړي
جنډي ته ایوبي خاطر
دا هغه میرویس دي
چي لمبه به کړي ګورګي خاطر
عزم يې رنګین دي په سپیڅلو ارمانونو کي
* * *

دانګي له پامیره
شنه زمري ستا د څپو په لوږ
تیر به له روښي شي
او ورځي به دامو په لوږ
دا هغه کاروان دي
د بري د ستارو په لوږ
نوم به د ازاد افغانستان لیکي په زړونوکي
* * *

پاڅیره لړ مست شه
د امو سینده مستي وکړه !
بیا په ترنم کي کونړي سره خپلوي وکړه !
بیا د څپو شور کي
دي خوږونه افغاني وکړه
نن درته غږیږي د «آزمون» شپېلي څوروونوکي